UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو اوویاند دفتر، کابل، افغانستان

## مطبوعاتی اعلامیه

http://unama.unmissions.org

موږ د یوې داسې پروسې په پیل کې یو، چیرې چې افغان اداري تولټاکنې د لومړی ځل لپاره پخپله ترسره کوي. د نوماندانو ارزونه د هغوي په خپله غوښتنه د افغان دولت- د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو او د ملي امنیت د ریاست له خوا ترسره شوې.

د افغانستان د انتخاباتو د قانون سره سم، دغه معلومات بیا د افغان انتخاباتي ارګانونو- د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټولټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته لیږدول کیږي، ترڅو پر هغو عمل وکړي.

د نوماندانو نهایي نوم لړ اعلان شوي. له ۲۵۷۷ نوماندانو څخه داسې ښکاري چې ۱۳ نوماندان د ناقانونه وسله والو ډلو سره د اړیکو د درلودلو له امله له نوم لړ څخه ایستل شوي.

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی، ستفان دې میستورا وویل:** "د ارزونې پروسې لا تر اوسه د قناعت وړ پایله نه ده ورکړې. د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د ارزونې په پروسه کې خپله ونډه ترسره کړې. د ارزونې کمیټې کولای شوای چې ډیر دقیق کار ترسره کړی وای، په دغه پړاو کې موږ نا امیده یو. وروستنی او نهایي خبره، او نهایي ارزونه په افغان رایه اچوونکو، ټاکونکو پورې اړه لري، لکه څرنګه چې دا په هر بل هیواد کې ترسره کیږی. زه دا درک کوم چې جلالتمآب ولسمشر کرزی هم په ورته ډول د دغې موضوع په اړه اندیښمن دی او پلان لري چې په رغنده او ابتکاري ډول نوموړې مسلې ته رسیدګي وکړي."

ملګري ملتونه د ټولټاکنو له خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو له کمیسیون سره خپلو تخنیکي او لوژستیکي مرستو ملاتړ ته ژمن دي، څرنګه چې یې په راتلونکو میاشتو کې غوښتنه کیږي.

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan

Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org

Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.